د افغانستان اسلامي امارت

**د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت**

**د دفتر عمومي ریاست**

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د دفتر عمومي ریاست
د صادري مهر: ۱۳۷۵ نېټه: ۱۴۴۷/۳/۲۸

**ګڼه:** **نېټه:** / /۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د کور او ښار جوړولو محترم وزارت ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: په (۱۶،۹) ناحیو کې د ګلبهار انوېستمنټ شرکت له لوري د ښارګوټو د جوړولو غوښتنلیک په اړه د استازي راپېژندنه**

د ګلبهار انوېستمنټ په نوم شرکت د ریاست الوزراء له اقتصادي معاونیت څخه په کړې عرضپاڼه کې غوښتنه کړې چې غواړي د کابل له محترمې ښاروالۍ سره په مشارکتي ډول د کابل ښار په نهمې او شپاړسمې ناحیې کې پر (۸۰۰۰) اته زره جریبه ځمکه کې په معیارونو برابر دوه نوي ښارګوټي جوړ کړي. د دې لپاره چې په یادو ناحیو کې د ښارګوټو جوړولو شونتیا، اړتیا او په سیمو کې د دولتي او شخصي ملکیتونو برخلیک او نور ټول احتمالات په پام کې ونیول شي؛ اړتیا ده چې په دې هکله ټول موارد په پوره دقت سره وڅېړل شي.

په دې اساس هیله ده چې د موضوع د څېړنې په تړاو خپل با صلاحیته استازی دې معاونیت ته راوپېژنئ. استازی مو کولای شي چې د ښې همغږۍ په موخه د دې معاونیت د قراردادونو او هوکړه لیکونو له کارپوه ښاغلي وحیدالله مایار سره چې د اړیکې شمېره یې (۰۷۷۷۶۰۶۰۸۱) ده، په اړیکه کې شي. والسلام

**درنه منته**

**مولوي عبدالله عزام**
**د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت**
**د مقام د دفتر عمومي رئیس**

**کاپي:**

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت (د اراضي محترم لوی ریاست)

د کابل محترمه ښاروالي

د پلان، پالیسي او حقوقي چارو محترم ریاست


Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul - Afghanistan پته: صدارت - مرمرینه ماڼۍ - د ملک اصغر څلورلارې - کابل - افغانستان

Contact number: 0202105504 د اړیکې شمېره: 0202105504


Shari Ullah